دمقالی لیکونکي: اندری ولچیک (Andre Vltchek).
منبع او خپریدو نیټه : کونټر پانچ « دجنوری نهم کال ۲۰۱۵ ».
ژباړه او څیړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

-----------------------------------------------------------

# ولویدیز نړی داسلامی غټه بالا جوړونکي

The West is Manufacturing Muslim Monster

## داسلامی تروریزم دپاره څوک باید ګرم وګڼل شی ؟

## Who Should be Blamed for Muslim Terrorism?

سل کاله دمخه کوم چی نه اټکلیدونکي ګڼل کیدل ، څو کسه مسلما نا ن په پاریس کی دعا مو خلکو یود حمل ونقل وسیلی د کافی څښلو خونی ته ورننوتل او خپل ځانونه یی دځان سره په حمل کړل شوی منفجره مواد وچول اودهغه په ترڅ کی په لس ګونوکسان اود ستریکل (satirical) دمجلی ټول کارکونکی یی قتل عام کړل ، کوم چی ددی په څیر پیښی چا په ساده ګی سره وړاندی نه وه لید لی .

کله چی تاسی د ادوارد (Edward) خاطری یا یادونه کوم چی هغه په ختیځ دارالاسلام کی دهغه ځای د نا رینه او ښځینوو په اړه با ندی پخپل خاطراتو کی یادونه کړی وګوری اویا یی ولولی نو تا سوته به څرګنده شی اوهغه داچی دفلسطین دتولنی زیا تو خلکو په بشپړه بڼی سره سکولار (غیرروحانی) او اعتدال خوښونکی خلک وه ، هغوی د خپل ژوند پر لارو چارو باندی فکر کول اودخپل ځان ، فرهنګ او حتی د خپل مود او فیشن څخه ځارنه کول نه هومره دمذهبی او عقیدتی پر اصولوبا ندی !

په همدی وروته بڼی سره کولای شو چی ووایواوهغه داچی نوراسلامی تولنی لکه دسوری، عراق ، ایران ،مصراود اندونیزیا خلکو هم لکه دفلسطین دخلکو په څیر نظر او باوردرلود، ددی ادعا ثبوت هغه زوړ اوراپاتی انځورونه دی کوم چی ددی خلکو د فرهنګ څخه استاذیتوب کوی ، نو د همدی دلیل په نظرکی نیولو سره ډیر مهم ګڼل کیږی چی باید تیر زاړه اټکلونه او آنځورونه په وار وار سره په ډیر غور ولوستل اووکتل شی .

اسلام یواځی یومذهب یا یو عقیده نه دی ! بلکه داپخپله په نړی کی د مختلفو فرهنګونو اود آدابو مجموعه دی کوم چی زمونږ دبشریت پس منظر او تاریخ یی په مختلفو برخو لکه علمی - معماری – اودیولړ مهمو اختراعاتو لکه په طب ، اوداسی نورو برخوکی بډا او شتمن کړی دی مسلمان ادیبا ن اولیکوالان ډیر حماسوی شعرونه ویلی دی اوډیر په زړه پوری داستانونه ، کتابونه لیکلی دی او هم په موسیقی کی ډیر زیات کمپوزونه جوړکړی اما له هرڅه نه دمخه باید وویل شی چی همدغه هستونکی مسلمانان وه چی دلمړی ځل دپاره په نړی کی دتولنی جوړښت یی په شمول د عامه خلکو دپاره روغتونونه ، اودلمړی ځل دپاره دپوهنتون ایجادیی را مینځته کړل چی دغه اولنی پوهنتون په مراکو کی د (al Qarawiyyin inFez) پوهنتون څخه یادونه کولای شو



(جامعته القرايين درشهر فانس مراكش : دغه بنا كوم چی په نړی کی دلمړی پوهنتون په نامه سره یادشوی هغه بنا دی چی د محمدالمهری دلور فاطمه المهری په واسطه سره په کال ( ۸۶۹) میلادی کی جوړ شوی دی .له ویکی پیدیا څخه ...ژباړونکی .)

دسو سیال یا د ټولنییز دکلمی مفهوم د مسلما نو سیا سی کړیو دپاره یو طبعی اومنل شوی موضوع وه اودهغه سره هیڅ حساسیت نه ښودل بلکه دا پخپله غربی نړی اودهغو په سرکی هغه له خپل ځانه راضی واکمن ډلی ټپلی وه چی نه یواځی په اسلامی نړی کی دکین اړخو حکومتونو په داخلی چارو کی له وحشیانه لاس وهنی څخه ډډه ونکړل بلکه په لندن ، واشنګټن او په پاریس کی فا شیستی اودهغو سره تړلی کړی اوحلقی ته زمینه برابره کړل چی واک ته ورسیږی ، که چیری دغه غربی واکمن ډلی داسلامی نړی په هیوادونو کی له غرضه ډک لاس وهنی نه وای کړی ،اویایی کودتا ګانی سرته نه وه رسولی

اوس به په دی هیوادونو کی سترسوسیالیستی اووګړنی حکومتونه به ترسترګو کیده کوم چی دنوموړی وګړنی حکومتونو به په سرکی پیاوړی اواعتدال

پسند او سکولار رهبران به واک پرمخ وړل.

تولوته لکه دلمرپه شان ښکاره دی چی په تیروڅولسیزوکی یوشمیر اسلامی رهبران دغربی نړی دسیا ستوالو د ضد بشری پالسی پر ضد چی نړی یی ترخپل کنترول لاندی راوستلی وه راپورته شول اوخپل مخا لفت یی وښوول دغه داسلامی نړی د ستر شخصیتونو په جمله کی یو هم د اندونیزیا له پخوانی جمهوررییس ښاغلی « احمد سوکارنو» څخه نوم اخیستلی شو کوم چی هغه دکمونیستی حکومتونوسره ډیر نژدی اړیکی لرل هغه یعنی سوکارنو په نړیوال کچی سره دضد امپریا لستی پکت په جوړولو لاس پوری کړ هغه پکت چی وروسته د جنبش عدم انسلاک په نوم سره مسما شورا مینځ ته کړل چی خپل ضد یت یی دنړی دامپریالیستی کړیوپه مقا بل کی په کال (۱۹۵۵) د باند ونګ په کانفرانس کی په ډاګه کړ .

ددغه کانفرانس ګډون کونکی غړی خپل مخالفت دمحافظه کارو عیسوی پلو نخبګانو کوم چی هغوی د خپل هیوادونو په دننه کی دفا شستی استعماری سلطنتی اود اولیګاریشی تجاری کړیوسره په نژدیوالی اواتحاد کی دپرمختګ مخه نیولی وه اوپه دی لته کی وه چی په نړی کی خپل هژمونی ته دوام ورکړی څرګند کړل .

دامپریاستی کړیو او امپراتوریو دپاره مارکسیستی وګړنی مترقی اسلامی رهبران اویا په دی ډول اسلامی هیوادونوکی مترقی اسلامی واکمنان اوپه تیره بیا دمینځنی ختیځ په هیوادونو یا له منابعوڅخه په شتمن اندونیزیا کی دسوکارنو واکمنی په هیڅ ښی سره دهغو دپاره دزعم وړ نه وه. اوداځکه که چیری دغه داسلامی هیوادونو وګړنی رهبران دخپل هیوادونو شتمنی دخپلوخلکو دښه ژوند د سمون د پاره پکار اچولی وای نو غربی حریصو وږی سترګو لوټمارانو اوتالاګر شرکتونو ته به څه پا تی کیدل ؟ نو دغه مغرض استعماری کړی په دی لټه کی شو چی ددی اسلامی رهبرانو مخه ونیسی او هغو ی پرینیږدی چی خپل وګړنی پروګرامونه دخپلو خلکو دهوساینی دپاره پخپلو هیوادونو کی پلی کړی، نو هغوی یعنی دغه غربی استعمارګر مخکی له هرڅه نه په دی اندیښنه شول چی با ید اسلام وویشی او په اسلامی هیوادونو کی افراطی

*اسلامګرایان او ضد کمونیستی ډلی تپلی انفلتریت اوداخل کړی اودهمدی مزدورو افراطی اسلامګرایا نو پواسطه سره وشی کړلی چی په نوموړی هیوادونو کی دیرمختګ مخه ونیسی .*

*اوس ټولو ته څرګند شوی چی د نړی په هر ګوټ کی هر رنګ افراطی اسلامی حرکتونه او جنبشونه لکه افراطی محافظه کاران –اسلامی ارتجاعی ډلی ، کوم چی اوس په سعودی عرب ، قطر اودعرب په خلیج کی د غرب سره وفادار دی اوسیا سی واکمنی په لاس کی لری ټول له یوسره دوهابیزم سره تینګ اوډیر نژدی اړیکی لری . نو ددی ادعا دثبوت دپاره لازم ګڼل کیږی* ***چی** **دډاکتر عبدالله محمد سندی** **څخه خبری دلته په لاندی بڼی سره نقل قول کړو کوم چی هغه داسی وایي:***

« د تاریخ د پا نو د مشاهدی او کتنی څخه بلکل روښانه دی چی بی دبریتانیا له مرستی څخه وهابیزم اوسعودی کورنی نن هیڅ وجود نه لرل .

وهابیزم دبریتانیا له خوا په اسلام کی یو افراطی الهام بخښونکی جنبش دی یعنی دغه افراطی اسلامی جنبش د بریتا نیا یوه ښکاره اوانکارنه منونکی سوغات دی چی اسلامی نړی ته دالهام په بڼه پشکش کړ ، همدارنګه بی ویلو دی پاتی نشی چی دامریکی متحده ایالات هم د سعودی کورنی له لاری څخه دوهابیزم څخه په ساتنه کی پوره چمتوالی ښکاره کړ او لا پسی ښکاره کوی سر بیره پرهغه چی په مستقیم یاغیرمستقیم بڼی سره دسپتمبر(۱۱/۹) تروروستی پیښی کوم چی د سعودی عرب د تروروستا نو پواسطه سره تر سره شول په نظرکی ونیسی . وهابیزم یعنی شخړه ،خشونت، ، بنی اړخ جنبش، افراطی محافظه کاری اوزوړ پرستی ،سرسخت چلن ، افراطګرایی ،جنسی تیریکونکی او بی حوصله سازمان یا حرکت دی کوم چی په همدی صفا تو سره متصف دی . »

*په کال (۱۹۸۰) کی ولویدیز واکمنان وها بیزم ته خپل حاتم طا یما با نه مرستی زیاتی کړل اوله افغانستان څخه د شوروی د محد ودونظامی قطعا تو دویستلو په نیت دهغه اوږد اوتریخ جګړی څخه چی د (۱۹۷۹) څخه پیل اوتر (۱۹۸۹) پوری دوام وکړ جګړه مارو ته مالی ،نظامی اوبشری مرستی ترسره کړ کوم چی ددی اوږد جګړی پایله دشوروی اتحادپه سقوط سره مخامخ شو یعنی هغه جګړه کوم چی دشوروی اتحاد دپاره داقتصادی اودسیکالوژیکی له*

نظره ډیر سترې کیدونکی جګړه وه .
مجاهید ینو چې په افغانستان کې دشوروی میشتو نظامی محدودو قطعاتو اوپه کابل کې کېنۍ اړخ ته دمتمایل حکومت پر ضد په جګړه لاس پوری کړی وه دهغوی ترشا همدغه دولویدیز پانګوالی رهبران ولاړ وه اوهغو سره هراړخیز مرستی تر سره کول حتی تر دی حده پوری چې دهمدغو ولویدیز واکمنانو په مرسته اوهڅونی سره داسلامی نړی له ګوټ ګوټ څخه جنګی مجرمان ، سرې وژونکی جلادان اوافراطی اسلامی متحجر مسلما نا ن ته بلنه ورکړل شوچې افغانستان ته راشی اودکمونیزم اودشوروی اتحاد په ضد مقدسه جګړه کی ونډه واخلی .
دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنیو چارو دوزارت دارشیف داسنادو په ملاحظه سره داسی ویلی شو:
(دیو لړ شرایطو له مخی افغان ،عرب اوخارجی جګړه مارو داجوری اویا ددستمزد په اخیستو سره په اصطلاح د بیخدا کمونیزم په وړاندی جګړی ته چمتو کړل شو چې د دغو جګړه ما رو له جملی څخه یوهم ځوان سعودی اوسما بن لادن نومی وه چې دالقاعدی سره ډیر نژدی اړیکی لرل او هغه وهڅول شو چې افغانستا ن ته دعربوجګړه مارو د سرګروپ په حیث دی افغانستان ته راشی اودشوروی اتحاددمیشتو نظامی قطعاتو پرضد وجنګیږی .)
دغربی نړی دواکمنانو په مرسته سره افراطی اسلامی ګروپونه په مختلفو اسلامی هیوادونو کی انفلتریت اوځای پرځای شول لکه دالقاعدی ډلی اوبیا په دی تازه وختونو کی یوه بله افراطی سرې وژونکی ډلی د داعش (دعراق – سوری اسلامی افراطی دولت ) په نوم کوم چې ډیر زیات افراطی ډلی دی دسوری - ترکی ، اودسوری- اردن په سرحد کی د مهاجرینو په کمپ کی ، دهمدغو ولویدیزو رهبرانو په مرسته سره نوی وزیږول شو او د نا تو دغړو هیوادونو اوغربی حلقی کوم چې په سوریه کی دبشرالاسد سکولر دولت ضد موقف لری دغه نوی ډلی ته خپل مالی مرستی جاری کړل چې دهیچاله سترګو څخه پټ پاتی نشو .
اوس غربی نړی دغه کرل شوی اسلامی افراطی ډلی ټپلی دمختلفو اودڅورنګو مقاصدو دترلاسه کولو دپاره په جنګ کی دخپل دښمنانودمینځ وړلودپاره پکار اچوی. دیادونی کړ مطلب داچې هغه هیوادونو کوم چې په یو اویا په بل رنګ

دامپراتوری تر بشپړ ولکې او تسلط لاندې پروت دی ددې هیوادونو افراطي ډلې تېلې کله ناکله دجادې په اخر کې دآمپراطورې هیواد له تسلط او کنترول څخه وځي ( لکه چې دعراق وشام اسلامي دولت دامپراطوري دکنترول څخه یوڅه مودی وروسته ووتل) مګر هیره مو نشي چې دغه افراطي ډلې دپه اصطلاح دتروریزم سره په جګړه کې د توری کوډې (سیاهي پالیز یعنې هغه تور کټو چې په پالیز کې دیو لرګې دپا سه دروول کیږي ) په صفت په کاروړل کیږي لکه چې دسوري ـ عراق اسلامي دولت جګړه مارو موصل ونیول او وروسته یې په عراق کې دغرب د نظا میا نواود سرتیرو د مجد د اویا له سره دداخلیدو بهانه اوپلمه په لاس کې ورکړل .

نن ورځ داسلامي افراطي ډلو تېلو قصې اوداستان داسې ګرم شوی کوم چې داکثرو ورځپاڼو ، مجلو او دتولنیز رسنیو دسرمقالودعناوینو پریټ یا رژه جوړ کړی اویا داچې داکثرو تلویزینونو په مانیتور کې ددغه اسلامي افراطي ډلې له خشونتنه ډک انځورونه دخلکو دننداری دپاره اچوي اوپه دې پلمه دځان دپاره توجیهه ترلاسه کوي چې یواځي دا دغربي هیوادونو وظیفه دی چې دخپل اتباعو دمصونیت دتامین دپاره ددې ډلو سره څه رنګه چلن وکړي، اویا څرنګه کولای شي چې دغه سرې وژونکي تروریستان ترخپل نظارت لاندې راولي اودخپل خلکو څخه د هغو په وړاندې دفاع وکړي اودهغو د ځپولو اود مینځه وړلو بهانه سره له کنګرس څخه دغني بودجې مجوز تر لاسه کړي، اوپه هغه هیوادونو کې چې دغه افراطي تروریستي ډلې فعالت کوي پرهغه هیوادونوباندې یرغل وکړي چې دهغه هیوادونه نموني یو هم افغانستان ، لیبیا ،عراق،سوریه او ....دی چې زمونږ دسترګې په وړاندې پرنوموړي هیوادونو باندې یرغل وکړل او په سلونوملکي بیګناه خلک یې مړکړاونوموړي هیوادونه یې دخاوری سره خاوری کړل . **( هغه د چا خبری لکه ماداری په شان چې پخپله مار له خلطي څخه را باسي او بیا دننداره چیانو څخه غواړي چې مداری سره مالي مرستي وکړي چې دغه مار بیرته خلطي ته وردننه کړي نو که خدای ناخواسته دغه مار مداری وچیچي نو ددرملني پیسی خو باید چې ورسره وي ! .... ځما په قلم )**

***

له یو سوله ایزاوخلاق تمدن څخه په ګټه اخیستو اودهغه په رڼا کې پر

سوسیالیزم باندی ډېره لګول دغربی نړی دمبلغانو دزهرجن تبلیغاتو اود پردی مذهبی او ایدیولوژیکی باورونو په کرلو او انفلتریشن او د خلکو ډارول د (تروریزم) له تهدید څخه ټول هغه څه وه او څه دی چی اسلامی هیوادونه اوپخبله اسلام سمدلاسه خپل ځان له خپل موقف او اصلی مسیرڅخه وویستل اوپه بل ځای کی ځای پیداکړ.

سربیره پرهغه بی ویلو دی پاتی نشی چی اوسنی وضع اوحالات په کلی بڼی سره عجیب اوغریب ښکاری او کله ناکله دغه حالات د خندا وړهم بلل کیږی اوهغه داچی هیڅوک اویا هیڅ یومقام په دی اړه فکر نه کوی چی ددی حا لاتو په رڼا کی زیات خلک خپل ژوند دلاسه ورکوی اود پیړیو پیړیو تمد ن او شتمنی دخاوری سره خاوری کیږی .

د تا ریخی کتنی له مخی اندونیزیایوله هغه ډېر وتلی اومخکی تللی نمونوی هیوادونو څخه شمیرل کیده چی د هغه لاسته راوونی اود هغه ځنی نمونوی اسلامی ارزښتونه په څه میکانیزم سره دړی وړی او له مینځه ویوړل شو.

په کال (۱۹۵۰) اود (۱۹۶۰) کال په اوایلو کی د اندونیزیا مخ په وړاندی پرمختګونهُ دجمهور ریس «سکارنو» ضد امپریالیتی چلن اودهغه محبوبیت په بین المللی ډګر کی او هم د اندونیزیا د کمونیست پارتی مشهورکید ل اوله ټولو نه په سرکی داسلام اودهغه هیواد داسلامی کړیو او داعتدال پسندو حلقو ډېر نژدی والی اوهمغږی دکمونیستی نظریاتوسره هغه څه وه چی دامریکی دمتحده ایالات ،استرلیا اودغرب دپانګوالو داستاذو کینه راوپارول اوداندونیزیاد تخریب او دارزښتونو دمینځه وړلو دپاره سره لاس په کار شول .

مسیحی اوضد کمونیستی ایدیولوژی او مخرب برنامه جوړونکو کړی یا حلقی په شمول دډېربدنام اورسوا غربی چوپړ جیسوت جوپ بیک ( Jesuit Joop Beek) اندونیزیا ته انفلتریت شو یا په شکل داشکالو اندونیزیا ته ولیږل شو غه بدنام اوغربی جاسوس په اندونیزیا کی په مخفی بڼی سره یو سازمان جوړ کړ چی دهمدی سازمان دغړو پواسطه سره له ایدیولوژیکی اوپارلمانی مبارزی څخه په ګټه اخیستو دغرب دپاره په اندونیزیا کی دکودتا زمینه مساعده کړ او کودتا په کال (۱۹۶۵) کی تر سره شو چی د هغه سره تقریباً د(۳-۱) میلیون انسانانو خپل ژوند دلاسه ورکړل .

په غرب کی غربی ضد کمونسیتی ماهرانواوکړیوداندونیزیا په دی ننه کی

له باندی څخه خپل جاسوسا نو ته تبلیغاتی مواد چمتو کول اوبیا دهغوی پواسطه سره ضد کمونیستی اوضد روشنفکری تبلیغاتی فعالیتونه د اندونیزیا په ټولو برخوکی ترسره کول ، او دغه تبلیغاتی فعالیتونه دجوپ بیک (Joop Beek) اودهغه دمربوطه ټرلی حلقی او متحدینو پواسطه سره ترسره کیدل چی لمړی له هر څه نه مخکی داعتدال پسند و اسلامی مترقی نظریو لرونکو اشخاصو په مغز شویی باندی اقدام کول اوهغو یی هڅول چی د کین اړخو مترقی روشنفکرانو دمینځه وړلو په فعالیتونو کی دهغو سره ونډه واخلی ، نو په همدی دلیل وه چی دکودتا څخه وروسته نه یوائحی داچی کمونستان بلکه هغو کوم چی یو څه په اسلامی روایاتو باندی پوهیده دخپل ستون پنجم پواسطه سره لمړی په نښه کول اوبیایی له مینځه وړل ، او ددغه ارتجاعی غربی جا سوسا نو کوم چی د جوپ بیک تر مشری لاندی فعالیت کول دهغوی اصلی هدف د اسلامی اعتدال پسندو اشخاصو د مینځه وړل وه لکه هغسی چی کین اړخ مترقی انسانان یی له مینځه ویوړل .

غرب د (۱۹۶۵)کال دکودتا څخه وروسته خپل تربیه کړ شوی فاشست دیکتاتور جنرال سوهارتو یی داندونیزیا په اولسمشری ونومول او جوب بیک (Joop Beek) یی دجنرال سوهارتو(Gen .Suharto) دمشاورپه صفت وټاکل سهارتو پخپله دجوب بیک پر شاګردانو اودهغه په متحدینو باندی دایدیولوژیکی او اقتصادی له پلوه پده اوتکیه وکړ دبلی خوا څخه دغه نوی پر خلکو باندی له بهره تپل شوی رژیم له ډیر سرشناس او راوتلی مسیحی غول پانګوالانو او تجارانو سره اړیکی لرل چی ددغه بیسنیس مینانو(سوداګر) له جملی څخه یو هم لیم بین کیی(Liem Bian Kie). وه

نوپه دی شان سره اندونیزیا کوم چی په نړی کی یوله ډیرمشهور هیوادونو څخه یو هیوادشمیرل کیده په دی هیواد کی د دغه نوی فاشیستی د یکتاتوری رژیم په مینځ راتلو کی د ټول اعتدال پسند مترقی اوپر وطن باندی د مینو مسلمانانو اعتبار ته صدمه ورسول شو اوهغه داچی داندونزیا مسلمانانو څه دسیاسی( پټ) اوڅه هم داقتصادی(ښکاره) اړخونو له پلو حاشیی ته وروتمبول شول اودهیواد ټول چاری په مستقیم بڼی سره دمسیحی غرب پلو اقلیت په لاس کی ولویدل . کوم چی نن ورځ په اندونیزیا کی دغه دغرب تر حمایی لاندی په سر داقتدار اقلیت دخپل واک دجاری ساتلو د پاره یو ډول ځانګړی دولتی

کمپلکس رامینځته کړ،چې دهغه په سرکې لمړی له هرڅه نه مخکې دکمونیستي اندیښنې د رزمندګانو له مینځه وړل ، د مافیای سوداګرۍ کارتولونو سره نژدې والي ، پرتولنیز رسنیو باندې لاس بری ، دهیواد تعلیمي چارې تر خپل واک لاندې راوستل ، دمذهبي شخصي موسساتو اود ښونځیو پرانیستل ، مفسد مذهبي مبلغانو ته (هغو چې د۱۹۶۵ کودتا کې داندونیزیا د خلکو په قتل عام کې پوره ونډه لرل ) د تبلیغ دلارې چا رې سمول د محلي او دبین المللي مفسدو ، ورانکارو اود ضد بشریت له نهادنو ، رژیمونو سره دنژدې اړیکي تامینول هغه څه دي چې ددې اقلیت رژیم پواسطه سره ترسره شو .

اوس په اندو نیزیا کې د مسلما نا نو اکثریت اوبیا خصوصاً غریب او بې نفوذ مسلمانان په یوچُپ اوغلې(اکثریت خاموش)اکثریت باندې اوړیدلي دي دیادونې مهم مطلب دادې چې په ډیرنا هیلي سره داندونیزیادشبهه نظامانو څخه کوم چې هغوی خپل رسمي جامې وقت ناوقت دکثافاتو په کڅوړو کې اچولي یا هغو چې دمجاهدینو سره دافغانستان په جنوب کې دشورویانو په جنګ کې جنګیدل یا هغوی چې په بال اوجاګا رتا کې دشپې نایټ کلبونو،رستورانونه او هوټلونو ته اوراچول دبین المللي اخبارو په سرلیک کې ورڅخه یادونه کیدل اودهغه پړې پربې ګناه مسلما نا نو باندې اچولي .

***دلته سوال پیدا کیږي اوهغه داچې په ریښتیا سره دا اورلګونې د مسلما نا نو پواسطه سره تر سره کیدل ؟***

داندونیزیا پخواني مترقي مسلمان ، روشنفکر او جمهور ریس ښاغلي عبدالرحمان«وحید»(کوم چې هغه داندونیزیا دښې لاس نخبګانوپه زور اوجبر سره له خپل مقام ګوښه کړ شو ) یووخت پخپل یو خبرې مطبوعاتي ناسته کې داسې څرګند کړ :زه پوهیږم چې په جاګارتا کې د ماریوت هوټل(Marriott) چاوالوزول ابداًدغه هوټل دافراطي مسلمانانو پواسطه سره نه دی الوزول شوی بلکه دغه هوتل داندونیزیا دمخفي اطلاعاتي خد ما تودغړو پواسطه سره ویجاړ شوی یا له مینځه تللي او هم ددې د پاره چې خپل فعالیتونه خپل غربي دوستانو ته وښیي اودهغه په بدله کې بودجوی اومالي بسپنه ترلاسه کړي اوله خپل فعال موجودیت څخه هغو ته ډاډ ګیرنه ورکړي . دا هوټل یې والوزول .

******

« زه په بشپړ یقین سره په دی موافق یم چی دغرب امپریالیستی کړی یا حلقی ددغه افراطی ډلی تېلی کوم چی دغرب په ابتکار سره مینځ ته راغلی دی یوساختګی اوپټ جعلی اړیکی لری اوما دغه خبره په لندن کی خپل ملګری«ضیاوالدین» ته وکړیعنی هغه چاته کوم چی هغه داندونیزیا داسلامی روشنفکرانو مشرتوب په غاړه لری.» .

په دی وخت کی ښاغلی سردار دخپل خبرو په دوام کی زیاته کړ :

( مونږ ددی ضرورت ګڼو چی پوه شو چی استعماری کړی یا حلقی بیغیر له دی چی په ساده بڼی سره اسلامی نړی اواسلامی فرهنګ یی تارومارکړ بلکه همدغه استعماری طاقت داسلامی نړی په انحطاط اوداسلام دمترقی اثارو اود زده کړی دروشونو په له مینځه وړلو کی ستر ونډه اخیستی دی ! اوس تولو ته څرګند شوی دی اوهغه داچی غربی نړی داسلامی نړی داثارو اود ځانګړی اموزشی میتودنوپه ګټه اخیستوسره په اروپا کی درنسانس څرخ وڅرخول یعنی رنسانس یی پلی کړل یعنی همدغه استعماری طاقت وه چی په فزیکی بڼي سره دتولو اسلامی هیوادونو موسسات ، نهادونه ، ښونځی ، تعلمی اوتربیوی او تعلیما تی انستیتوتونه یاله مینځه ویوړل او یا یی دهغو دروازی یی وتړل اسلامی کارپوهان او مبتکرین یی له یوسره نیست ونابود کړ اود اسلامی نړی تول لاسته راوړنی یی په یو اویابل شکل سره ترلاسه کړ اوبیا د همدغه اسلامی لاسته راوړنو په رڼا کی داروپا یا دغرب په نړی کی درنسا نس تر نامه لاندی دانکشاف او دپرمختګ ډیوه یی روښانه کړ. او بیایی دغرب دتمدن ترنامه لاندی له سره تاریخ نوی ولیکل یعنی هغه داچی داسلامی نړی رنسانس یی پرخپل نوم باندی واړول اوداسلام تول افتخارات یی دخپل رنسانس په تاریخ کی ځای پرځای کړل لکه دایرانی ناسیونالیستنو په شان چی سید جمال الدین افغانی په سدجمال اصفهانی باندی یادوی اوغواړی چی په دی شان خپل تاریخ ته دتمدن او civilization نوم ورکړی .

ددوهم نړیوال جګړی دکلنو دهیلواو امیدونه څخه بیا تردی ترږمی اوله ذهنی اړخه تپی توری ورځ څومره اوږد زوروړ اوله ډاره ډک سفرترسره کړ.

نن داسلام نړی تپی ، رټل شوی ، مغشوش او په همیشګی اوتلپاتی بڼی سره له ځانه دفاع کوی .

دپردیو اوبیګانه اتباعودپوهی خاوندانو سواشتباه اوناسم چلن اوحتی دخپله

اسلامی تیروتی تولګیو کوم چی هغوی اکثراً د غربی خود غرضو حلقو په لومه کی ولویدلی دی اوس دهغو دنظریاتو پلوی کوی .بی له دی چی پوه شی چی داچلن دهغو دهیواد په ضرر تمامیږی .

لکه چی تول په دی ښه پوهیږی چی اسلامی فرهنګ په زړه پوری ، دتحمل وړ ،یو زده کړه یا پوهوالی دی هغه ډول زده کړه چی دخلکو دهوسا ژوند تضمین کونکی اولارښونکی بلل کیږی ،غربی چوپړ کارپوهان دغه تول اسلامی ښیګڼی داسلام له تنی او ډډ څخه پری کوی اویواځی یی دیو مذهب په بڼه نړیوالو ته معرفی کوی .

اوس له بده مرغه اکثر اسلامی نړی د خاینو ،لاس پوڅو نظا می یامفسدو مشرانو ، پاچاهانواوحکمرانانو پواسطه سره رهبری کیږی یعنی د حکومتونو اودنهادونو په راس کی ځای پرځای شوی دی کوم چی له یوه سره سره دغربی لوټمارو او دمفسدو نړیوالو رژیمونه سره تړلی دولتونه دی .

پس همدغه مفسد کړی او حاکمان کوم چی اوس دغربی نړی دامپریالیستی حلقو سره په اړیکی کی قرار لری په افریقا جنوبی امریکا اود نړی په نورو برخو کی دغربی نړی دمنافعو اودګټو داستاذی په بڼه کار او فعالیت تر سره کوی او په دی شان داسلامی هیوادونو منل شوی فرهنګ د خاوری سره خاوری ته سپاری .

دا کومه انګیزه دی چی دغه غربی لوټمارحلقی دنړی په هرکوټ کی خپل اقتصادی برلاسی غواړی ځواب یی ډیر ساده دی اوهغه داچی دغه غربی لوټماران ډیر حریص ، مفسد او وحشی اوشرر پیشه خلک دی چی هغوی ته لمړنی اصل اوهدف ګټه دی نه ایماندارذی اویا انصاف .

بی ویلو دی پاتی نشی چی هرشی دخپل تینګ بنیاد پر اساس ترسترګو کیږی هیڅ یو مسیحی بنیاد ونشو کړلی چی دخپل امپراتوری هیاهو په موده کی په تینګ اوقوی فرهنګونو باندی دخپل امپراتوری دوړی وروپاشی اویا یی له مینځه ویسی بلکه اوس هم ځنی قوی اوریښه لرونکی فرهنګونه پخپل حال کی پاتی دی .

اوس دهیچاله سترګو څخه پټ نه دی اوهغه داچی هرکله چی یواسلامی هیواد غوښتی چی خپل اصلی اوذاتی فرهنګ اوارزشونوته مخه کړی اوبیا خصوصاً خپل وګړنی اجتماعی منل شوی دود اوثقافت ته میل ښودلی لکه چی ایران –

مصر –اندونیزیا اویا په دی تازه وختونو کی عراق لیبیا یا سوریه غوښتی دی چی خپل دودونه اوسنتی فرهنګ بیرته را تازه کړی نوغربی لوټماران په شکل داشکال نوموړی هیوادونه ترخپل یرغل لاندی راوستی او هغوته موقع نه دی ورکړی چی خپل اهداف ترلاسه کړی یعنی همدغه غربی لوټماران دی چی دغه ذکر شوی اسلامی هیوادونه یی تار مار کړ اوله یوسره یی د خاوری سره خاوری کړل .

په اسلامی هیوادونو کی دغرب لاس وهنه په ډیر اسانی سره دهغه اسلامی هیوادونو دخلکو اراده ته تاوان ورسول او د همدی غربی مداخله ګرانو دلاس وهنی پر بنیاد مسلمانان په اسلامی هیوادونو کی د آزاد او د خپل خوښی دیموکراتیک انتخاباتو څخه محروم اوبی برخی کړل شول .

اوس هر چا ته لکه لمر روښانه دی او هغه داچی له څو لسیزو څخه را په دی خوا دفلسطین خلک له آزادی اودبشر دحقونو څخه بلکل محروم دی ، حال داچی اسرایل اودهغه سره ددی وچی امپراطوری خپل برخه لیک په آزادانه بڼی سره پخپله ټاکی اود فلسطین خلک په یهودی نشین محله کی بند اوله هرډول آزادی څخه محروم او په ډیر ساده ګی سره سپک کیږی اویا بی له دی چی څوک هغوی ته پام واړوی په مرګ محکوم کیږی حتی تردی حده پوری چی ځنی ځنی له خپل دین څخه او له خپل دود اورسم ورواج څخه دمجبوریت په لحاظ وځی .

بله مهمه موضوع داچی عربی بهار له خپل اصلی تګ لاری څخه دهمدی غربی ارتجاعی واکمنانتوپه واسطه سره له مصره بیا تر لیبیا پوری بی لاری شول اوهمغه وراسته ،کرغیړن او تاریخ ځپلی رژیمونه او نظامی دیکتاتوران له سره داکثرو عربی هیوادونوواک بیرته ترلاسه کړل او دعرب دخلکو ارمانونه او هیلی ټول دخاوری سره خاوری شول .

یاداچی دافریقی دوچی ټول مسلمانان دخپل هیواد د طبعی شتمن زیرمو په لرلو سره په ډیر بوږنونکی بڼی سره دهغه بیه اوقیمت ورکوی او هم همدغه دافریقی دوچی مسلما نا ن دی چی دچین سره یعنی دهغه هیواد سره کوم چی د تاریخ له پلوه د غربی هیوادونو په پرتله متمد ن او بافرهنګ هیواد دی ستونزی اوشخړی لری اوداځکه چی چین هم د خپل ګټو د لاسته راوړولو دپا ره دافریقی دوچی شتمن طبعی زیرمو ته ځان قابو کړی دی .

*****

دا یوڅرګند حقیقت دی چی مسیحت ننی نړی دیوی بوړنونکی اوشخړیز کړکی یا زواویی څخه وینی اوداځکه چی دهغه دلوتمارو پانګوالو پیروانو ګټه او منافع په جنګ ، خشونت اوپه ګډوډی پوری تړلی دی ، اما اسلام دتاریخی څرګندونی پر بنیاد دخپل تیرو سلاطینو ، پاچاهانو اوزمامدارانو پر کړونو او کارونو باندی ویاړی لکه پر صلاح الدین پاچا باندی کوم چی هغه دیرغلګرو په وړاندی دخپل غتو ښارونوڅخه لکه د حلب ، دمشق ، قاهره اوداوریشلیم څخه دفاع اوسا تنه وکړل ، هغه تل د جنګ اود جګړی په مقابل کی خپل مخالفت اوکرکه ښکاره کول ، نو په دی بنیاد سره غربی لوټمارانو ته دا ډیر ستونزمن ښکاری چی دصلاح الدین پاچا اوداسلام دنورو کارپوهانو ، علماو ، او دعلم دخاوندانو په اړه ځانته کره معلومات تر لاسه کړی.

اوس دهیچا نه پټه نه دی اوهغه داچی د عراق اودسوریی اسلامی دولت (داعیش) یواسلامی افراطی ګروپ یا ډلی تپلی دی ،اما نه داچی دمینځنی ختیځ دبی ثباته کولو د پا ره دغرب په لاس کی یوه اصلی وسیله یا افزارد تل د پاره اووسی .

له دی نه هیڅوک انکار نشی کولای چی په فرانسه کی هغ ه له وحشته ډک یرغل کوم چی دشارلی هیبدوطنزی مجلی دکارکونکو اودژورنالیساتو دمړنی سبب و شو او فرانسویان یی دغم اود ماتم په تغر کی کینینول دچا څخه به هیر نشی مګر هغه څه چی دلته داندیښنی وړ دی هغه دا دی چی د دغه یرغل کونکو تر شا بیا هم همغه جګړه غوښتونکی حلقی ولاړ دی کوم چی اوس غواړی په ټول اروپا کی د اسلام انځور دوحشی جګړه مار او دتروریست په بڼه ښکاره کړی او پرخپل تیر صلیبی جنګونو کوم چی دهمدی مسیحی پیروانو پواسطه سره ترسره شول او ډیر اسلامی مترقی اوسکولار حکومتونه یی یو دبل پسی ړنګ اود خاوری سره خاوری کړل برغولی کیږدی اوټول ملامتی پر اسلام اومسلمانانو باندی واچوی .

*****

په تیرو پنځه لسیزوکی تقریباً لس میلیون مسلما نانو له دی نه چی دامپریا لیزم ترجغ لاندی پری ونه وتل خپل ژوند دلاسه ورکړل چی زیا تر دغه سرښیندونکی مسلمانان په اندونیزیا ، عراق ، افغانستان ، پاکستان ، ایران ،

یمن ، سوریه ، لبنان ،مصر ، ما لی ، سومالیا ، بحرین او په ځنو نورو اسلامی هیوادونو کی ژوند کاوه

اوس ټولو ته لکه لمر روښانه شوی چی غرب اودغربی نړی جنګ پلوو کړی او حلقی دغه ټول موجود وحشی دیوان اولویه بلاګان نه یواځی داچی یي پیژنی بلکه دمیلینونو ډالر په لګښت سره هغوی ته نظامی روزنه ورکوی په مدرن سلاحګان یی مسلح کوی اوبیا دتروریستی اعمالو دسرته رسولودپاره یی خوشی کوی چی دغرب دپاره نیابتی جګړی وکړی.

اوس کوم چی دغه تروریستی ډلی ټپلی په سعودی عرب اوپه قطر کی ژوند کوی ،دامریکی متحده ایالات اونورغربی هیوادونه دسعودی عرب اوقطر سره ډیر نژدی اړیکی لری او دغرب له متحدینو څخه شمیرل کیږی او هیڅکله دغه غربی هیوادونه دهغو تروریستانو دکړنو په مقابل کی ونه دریدل او هغوی ته سزا ورنکړ بلکه هغوی یی وهڅول چی دغرب د ګټو دترلاسه کولو د پاره پر هیوادونو باندی تروریستی عملیاتونه تر سره کړی .

لوی اسلامی جنبشونه او سازما نونه لکه حزب الله کوم چی اوس دعراق اوشام داسلامی افراطی دولت سره دمرګ اود ژوند په پوله ګی جنګیږی کله ناکله دغرب پواسطه سره همدغه د حز ب الله سا زما ن داسرایل دیرغل په وخت کی په خوځښت راوړل کیده چی دا سرایل سره وجنګیږی اوبیا یي ددی حزب دبد نامولو دپاره نوموړی حزب په تروریستی لست کی داخلول او په دی صورت دنړی پام هغه ته دیو تروریستی سازمان په شکل اړول .

تاسی وګوری اوبیا یی په یاد راولی چی همدغه مسیحی پلو جګړه مارو د صلیبی جنګونو په وخت کی د مینځنی ختیځ څه شمیر مترقی اوسکولار دولتونه او حکومتونه یی دخاوری سره خاوری کړل اودهغو هیوادونو دخلکو ابدات اوفرهنګ ته ستر تاوان ورسول لکه دعراق دپیړیو پیړیو اسلامی اثار اوکتابونه کوم چی دعراق په کتابخانو کی ځای په ځای وه یعنی د بین النهرین پیژندل شوی فرهنګ او ابدات . کوم چی داسلامی نړی دفرهنګ او دلاسته راوړنود نه هیریدونکی له ویاړنو څخه وه .

هماغسی چی داسلام ددین له طرفه امپریالیزم یواځی دځو ډارن او افراطی پانګوالی دپلویانو دیو سیستم په بڼه سره پیژندل کیږی یعنی هغه ډلی او ټپلی کوم چی دنړی په سراسر کی دغرب دتسلط دټینګولو په لټه کی دی نو دبلی

خوا څخه همدغه حلقی او کړی یو ډول لیبرال اسلامی غورځنګونه را مینځته کړی چی دهمدغو افراطی اسلامی بنیاد ګرایانو پواسطه سره دعرب په خلیج کی هغوی هڅول کیږی چی دخپلو خلکو دګټو په مقابل کی خنډ شی او دهغه هیوادونو دمترقی او دسکولار ځواکونو په مقابل کی وجنګیږی چی د بیلګی په بڼه دغه هیوادونه یوهم سعودی عرب ، قطر او ځنی نور دی .

******

**داندر اولچیک(Andre Vltcheck) په اړه معلومات** : اندر یو مشهور داستان لیکونکی ، فلم جوړونکی او څیړونکی ژورنالست او مفسر دی هغه ډیری جنګونه او اختلافات کوم چی په مختلفو هیوادونوکی رامینځته شوی دی پر هغه باندی مقالی لیکل دی ، دهغه په وروستی له چاپه وتلی کتاب کی دغه لاندی موضوعات ترسترګو کیږی : *** دغربی امپریالزم په ضد جنګ *، د لمر په نوم دهغه مرکه او ګډ توضیحات د نوام چامسکی سره * دهغه انتقادی ناول دنه راګرځید نی تر نقطی پوری * دغربی او دسهیلی ختیځ د امپریالیزم تر عنوان لاندی * دسها رتو څخه وروسته د دار مجمع الجزایر په نامه سره اوداسی نور ...........**

**---------------------------------------------- په درنا وی**